مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ولي الله ملکزی ۲۰۲۰/۱۰/۱۳

# حنفي فقه او د سولې کاږه واږه پیچومي

چشم بد دور، زموږ په وطن کې د جنازو او هدیرو تر څنګ نن سبا د سرو کربښو هم ښه پریماني ده. چا ته جمهوریت سره کربښه ده، چا ته امارت، چا ته د شلو کالو لاسته راوړني او دا دی اوس حنفي او جعفري فقهي هم سرې کربښې شوې. زموږ د جغرافیا د ارواښاد معلم صیب قادر خان، تکیه کلام رایاد شو چې د هر درس په آخر کې به یې ویل: (کل د کدو کل دی، یو پورته کوم لاندی تری بل دی) نن په قطر کې له طالبانو سره د افغان دولت د بی بنده بی سربنده ناستو پاستو او سیاسي چنو وهلو یوه میاشت پوره شوه. د هوټل په ښایسته تالارونو او لابي ګانو کې، خبرې تردی دمه د متن په ځای په حاشیه کې رواني دي، خو تیره شپه په هلمند کې د کبړ بازار یو ځل بیا پرانیستل شو. په ټولنیزو رسنیو کې د هلمند د کم نصیبه ولس د ماتو کټونو، جرمني لګنونو او سولیدلو برستنو انځورونو غومبر اچولی او د ګلالیو ماشومانو او پیغلوټو وارخطا څیرې او پلاستیکي څپلکې، لورا لور مخ په مخ ته کیږي.
په دوحې کې یو له هغو پیچلو او اختلافي مسئلو چې د جرګه مارو دا برغنډ برغنډ کاروان یې په ټپه درولی، د سولې د مخالفینو په آند، هغه د حنفي فقهي په محوري رول باندی ټینګار دی. په عین حال کې داسی ګونګسې او اټکلونه دي چې د ولسمشرۍ په ماڼۍ کې د یوې زورورې کړۍ په لمسه او مرسته، په اساسي قانون کې جعفري فقهي ته د برابرۍ او انډولي درجې ورکولو په پار یو منظم غورځنګ پیل شویدی. د یوې غلط فهمی او فکري ستونزې په توګه ډیری خلک فقه، شریعت ګڼي، خو په اصل کې فقه د اسلامي شریعت توضیح او تشریح ده. فقه د سترو امامانو د اجتهاد، قیاس او له نصوصو څخه د برداشت نچوړ دی. تر څو وښایي چې دغه الهي حکم فرض دی، واجب دی، سنت دی، که مکروه او یا حرام؟
د فقهي کلمه چې د پوهي په مانا ده، د سورت توبې په ۱۲۲ مبارک آیت کې داسی راغلی ( فَلَوْ لا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِنْهُمْ طائِفَةٌ لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ - ولی له هرې ټاکلې ډلې څخه خلک ونه وتل ترڅو په دین کې پوهه ترلاسه کړي) حنفي فقه چې موسس یې امام اعظم ابو حنیفه (رح) دی، په پنځوسم هجري قمري کال کې د عراق په کوفې کې پیدا او د اویا کلنی په عمر، بغداد کې وفات شویدی. د زرګونو شاګردانو له جملې څخه یې یو امام محمد بن الشیباني او دوهم یې امام ابو یوسف دی چې د ځواکمن عباسي خلیفه، هارون الرشید په واکمنۍ کې د خلافت د ټول قلمرو قاضي القضاة وو.
د عباسیانو په ۷۶۷ کلنې دوره کې چې نن ورڅخه نژدی دوه څلویښت هیوادونه جوړ شویدي، حنفي فقه یې رسمي او یواځینی مذهب وو. د اثناعشري مذهب ستر امام، جعفر صادق چې د امام ابوحنیفه همزولی او دوست وو، همیشه یې د امام اعظم او د هغه د شاګرد امام ابو یوسف فتواوې په پراخه ټنده منلي او د اهل تشیع د شپږم مذهبي امام په صفت یې هیڅکله هم جنجال او مخالفت ندی کړی.
د عثماني سلطنت په څه باندی شپږ سوه کلنې اوږدې واکمنۍ کې چې د ارطغرل څخه رانیولې تر سلطان عبد الحمید پورې غزیدلې وه، ټول شرعي احکام یې د حنفي مذهب په چوکاټ کې عملي شویدي. جوته ده چې د عثماني سلطنت لمن له کاشغر څخه رانیولی د اروپا د البانیا او حتی اتریش تر پولو رسیدلې وه. پدغې سترې او پراخې امپراتورۍ کې د شافعیانو، مالکیانو او حنبلیانو ترڅنګ اثناعشره، علویان، اسماعلیان، زیدیان، متصوفین او سلفیان هم اوسیدل، ولی رسمي او دولتي نظام د حنفي فقهي په رڼا کې فیصلې کولې او هیڅ چا د حنفي فقه په وړاندی د اعتراض او مقاومت غږ ندی اوچت کړی.
همدا رنګه د هند په لویه وچه کې چې د مغلو واکمني وه، هلته هم په مسلمانانو باندی ټول شرعي احکام د حنفي مذهب په رڼا کې تطبیق کیدل. کله چې په ۱۶۵۸م کال کې اورنګ زیب د خپل پلار، شاه جهان ځای ناستې شو نو د ۴۷ تنو مشهورو عالمانو یوه ټولنه جوړه کړه چې د اتو کلونو په موده کې یې په زرګونو فتواوی راټولی کړې. د فتاوی عالمګیري په نوم دغه ستره ټولګه د حنفي فقهي د چوکاټ دننه د هند په سترې وچې کې له معاملاتو، عباداتو څخه رانیولې تر شخصي اړیکو پورې تر ننه خپل افادیت همداسی ژوندی او اغیزمن ساتلی دی. د هند، پاکستان، بنګله دیش او افغانستان تکړه مفتیان دغه عالمګیري د یوې مهمې فقهي سرچینې په ډول کاروي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د حنفي فقهې درې واړه معتبر کتابونه، قدوري چې امام احمد القدوري په ۹۷۳م په بغداد کې ليکلې، کنز الدقائق امام احمد نسفي په۷۱۰ هجري قمري کې په دمشق کې او الهدايه چې امام برهان الدين فرغاني تاليف کړې، د پېړيو پېړيو لپاره د اسلامي امت د يو غټ اکثريت (احنافو) د شرعي احکامو په اړه د حل لارې په ګوته کړيدي. دا صحيح او پخه خبره ده چې دغه کتابونه نژدی زرکاله پخوا تدوين او تاليف شوي او د نن ورځې مسائل، عصري ځوابونه غواړي. ولي له نيکه مرغه د حنفي مذهب لمن ډيره پراخه او د اجتهاد او نوښت دروازه يې تل پرانستې پريښې ده. غوره دليل يې د الهدايه فقهې کتاب دی چې په ۱۷۹۱م کې د يو انګريز مستشرق، چارلز هيملټن لخوا له فارسي څخه انګريزي ته ترجمه شو او د هند په لويه قاره کې پيرنګيانو له هغه څخه د مسلمانانو د ديني ارزښتونو او شخړو په حل او فصل کې استفاده کوله.

په کابل کې د حقوقو د پوهنځي مرستيال، عبدالسبحان مصباح د حنفي فقهې او موضوعي قوانينو په اړه وايي (له پيله تر امير شيرعلي خان پورې، د افغانستان ټول احکام او پريکړې د حنفي فقهې په چوکاټ کې اجرا کيدلې. البته د نوموړي د واکمنۍ په مهال، بيا د امير عبد الرحمان خان او ورپسې د غازی امان الله خان په دورو کې يو څه موضوعي مواد او بندونه ور زيات شول کوم چې د اروپا د صنعتي انقلاب د اغيز لړۍ ګڼل کيږي) مصباح زياتوي: د جزا او معاملاتو قوانين بايد د حنفي فقهې په چوکاټ کې حل او فصل شي، مګر که په شخصي احوالو کې د جعفري فقهې احکام چې دواړه خواوې د همدې مذهب اتباع و اوسي، کومه قانوني ستونزه نه ده) له بله پلوه، د امريکا د سالټ لک پوهنتون استاذ او د سباوون د اونيزې چلوونکی، ډاکټر مومند عقيده لري چې (که شريعت په واقعي ډول عملي او پلي شي حتی قانون اساسي ته اړتيا نه ليدل کيږي، ځکه هلته د هر چا حق او سرحد معلوم دی. موږ دا اجازه لرو چې د اړتيا په وخت کې د نورو فقهي مذاهبو له نظرياتو او استنباط څخه استفاده وکړو، ولی ستونزه په دی کې ده چې فقه بايد د يوې سياسي حربې او پلمې په توګه استعمال نه شي).

د شخړو حل او په ټولنه کې د عدالت رامنځ ته کول، تشه غوښتنه نده بلکې هغه يو حق او وجيبه ده. د حنفي فقهې د موثريت او افاديت بل دليل دادی چې په نړۍ کې اسلامي بينکاري تر ډيره ځايه په حنفي فقهې باندی ولاړه او روانه ده. حتی هغه هيوادونه چې په اصطلاح سلفي فکر لري، هغوئ هم دا مني چې په معاملاتو، تجارت او شخصي احوالو کې تر ټولو جامع او د پراخه فکر مذهب، همدا حنفي مذهب دی. په مصر کې هغه څوک قاضي کيږي چې يا به حنفي مذهبې وي او يا په دی مذهب کې تخصص ولري.

ولی بايد په پام کې ولرو چې زموږ په ګاونډي ايران کې د هغوئ د اساسي قانون له مخې، ټول قوانين د اثناعشري فرقې په چوکاټ کې جوړيږي، ستر مذهبي مشر او ولسمشر بايد د همدې مذهب پيرو وي. سنيانو ته اجازه نه ورکول کيږي چې په تهران کې د کليساوو او د يهودو د سنيګاک په شان د ځان لپاره جوماتونه جوړ کړي. تاريخ ګواه دی چې د هر جنګ په پای کې يوه خوا ګټونکې وي، خو مذهبي جنګونه هيڅکله غالب او مغلوب نه لري او بيه يې ولسونه ورکوي. خو که څوک شک لري نو د هارون الرشيد لخوا جوړ شوی عراق او د امويانو په لاس آباده شوې سوريه دی نه هيروي، چې د شيعه او سني جګړو په لمبو کې څرنګه ايره ايره او کسکر شول.

حنفي فقه د دی هيواد د غوڅ اکثريت مذهب دی، هيڅکله هم د سولې پدی کړېږ وړې او ازغنې لارې کې نه خنډ وه نه پيچومی. لکه څرنګه چې په افغانستان کې دوه سري حکومت نتيجه ورنکړه او د افغان ولس د هيڅ درد، درمل نه شو. له همدی امله کتونکي پدی باور دي چې په يو ملک کې په دوو مذهبونو ولاړ شرعي نظام به د ستونزو د حل په ځای، د شخړو او فاصلو لامل وګرځي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ